# هغه زمونږ نه نه دے

**16-NOVEMBER-2023**



هفته وراه د سُنتو دکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

په16 نومبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# هغه زمونږ نه نه دے

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د صحابه کرامو ځانګړې ښکلې اداګانے
- ...هغه زمونږ نه نه دے
- ... په جنَّت کښې د آقاصَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ
- ... مسلمان ته دوکه ورکوونکے زمونږ نه نه دے

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)
*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارك** دے: د قيامت په ورځ به د الله پاك د عرش د سوري نه علاوه بل سورے نه وي 3 كسان به د الله پاك د عرش په سوري كښې وي: **(1)** هغه كس كوم چې زما د اُمَّتي پريشاني لرې كړي **(2)** زما سُنَّت ژوندي كوونكے **(3)** په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لوستلو والا.[1]

بيٹھتے اُٹھتے، جاگتے سوتے | ہو اِلٰہی مرا شِعَار درود[2]

**وضاحت**: يا الله پاكه! داسې توفيق را عطا كړې چې په ناسته ولاړه، اوده كيدو، بيداريدو بس په هر وخت د دُرودِ پاك لوستلو عادت جوړ شي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاك كښې دي: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل

---

[1]... البدور السافرة، صفحه:170169، حديث:364۔

[2]... ذوقِ نعت، صفحه:124۔

دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د هر نيك او جائز كار نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم ټخپله به پرې د عمل كولو او نورو د رَسَولو كوشش كووم.

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د صحابئ رسول حضرت انس بن مالك نه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دے: يو ځل خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يوه لاره تيريدلو، مونږه هم ورسره وو، په لاره كښې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو اوچت [دوه منزله] كور ئې اوليدلو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوكړه: دا څه دي؟ صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوكړو: دا فلاني صحابي جوړ كړے دے. عابد و زاهِد نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره خوښه نكړه خو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې اظهار اونه فرمائيلو. وروسته چې كله هٰغه صحابي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر شو او سلام ئې عرض كړو نو خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې خپل مخ مبارك واړولو، هغوئي بيا سلام عرض كړو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مبارك واړولو، يو څو ځله داسې اوشو نو (هٰغه صحابي پريشانه شو او) د صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان نه ئې پوښتنه اوكړه (چې آخر حضُور

---

[1] ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما نه په څه وجه ناراضه دے؟) صحابه كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ورته ټوله مُعامله بيان كړه (چې رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو د كور په خوا تيريدلو، ستاسو اوچت [دوه منزله] كور ئې اوليدلو، كيدے شي چې د ناراضګئ سبب هم دغه وي). پس دومره اوريدل وو چې هغه صحابـي په تادئ كور ته اورسيدلو او خپل اوچت كور ئې وران كړو او د زمكې سره ئې برابر كړو (يعني صرف لپاسه منزل ئې وران نكړو بلكه پوره كور ئې وران كړو). بيا يوه ورځ خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغه ځائے تيريدلو نو هغوئي ته هغه [اوچت دوه منزله] كور ښكاره نه شو: اوئې فرمائيل: هُغه كور چرته دے؟ عرض اوكړے شو: هغه صحابـي ستاسو د ناراضګئ په ويره سره هغه كور وران كړے دے. په دې باندې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: واورئ! بےشكه هر كور د هغه د مالِك د پاره وبال دے البته كوم چې د ضرورت د پاره جوړ كړے شوے وي.[1]

**مشهور مُفسّرِ قرآن، حكيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاك لاندې ليكي: په حديثِ پاك كښې د لفظِ **وبال** نه مراد كه ګناه ده نو مطلب دادے چې هُغه كور كوم چې بےضرورته صرف د فخر او تكبر د پاره جوړ كړے شي چې دا كار ناجائز دے، د فخر او تكبر هر كار حرام دے. او دلته د لفظِ **وبال** نه مراد د آخرت بوج دے نو په دې كښې هر هغه كور شامل دے كوم چې بے ضرورته جوړ كړے شوے وي. غرض دا چې د دُنياوي ضرورت (مثلاً د اوسيدلو، كاروبار كولو وغيره) د پاره كور جوړول مُباح (يعني جائز) دي او د ديني ضرورت (مثلاً

[1] ...ابو داؤد، كتاب الادب، باب ما جاء في البناء، صفحه: 815، حديث: 5237 ملتقطًا۔

جمات، مدرسے وغيره) د پاره كور جوړول د ثواب كار دے. د دې نه علاوه كوم كور چې صرف د ښودنې د پاره، د فخر او غرور د پاره جوړ كړے شي، هغه به د جوړوونكي د پاره د قيامت په ورځ وبال وي.[1]

## د صحابه كرامو ځانګړې اداګانے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاك په رڼا كښې د صحابه كرامو د عشق انداز اوګورئ! خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوچت [دوه منزله] كور اوليدلو، هغه ئې خوښ نه كړو، په دې باندې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هم اونه فرمائيل چې دا كور جوړول جائز نه دي، هغه صحابي ته ئې د كور د ورانولو حكم هم اونكړو بلكه صرف د ناراضګئ اظهار ئې اوكړو، هغه صحابي ته صرف اندازه اوشوه چې كيدے شي د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضګئ وجه دا كور وي، پس دا كور زما او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مينځ كښې آړ جوړ شوے دے، په دې سبب سره ئې هغه پوره كور وران كړو، صرف پاسني منزل ئې ورانووم... نه....!! نه....!! كوم څيز چې د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضګئ سبب جوړيدلو، هغه ئې د بيخ نه ختم كړو، او ټول كور ئې وران كړو. دا ئې هم سوچ اونكړو چې ما خو دومره روپئ په دې كور لګولې دي، هغه خو به بربادې شي، اوكتل ئې چې محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې په وجه ناراضه دے نو پوره كور ئې وران كړو او د زمكې سره ئې برابر كړو. ولے؟ صرف او صرف د محبوبِ خُدا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راضي كولو د پاره.

سُبْحٰنَ اللّٰه! دې ته وائي رښتينے عِشق....!!

كروں تيرے نام پہ جاں فِدا، نہ بس ايک جاں، دوجہاں فِدا
دوجہاں سے بھی نہيں جی بھرا، كروں كيا كروڑوں جہاں نہيں[1]

---

[1]...مرآۃ المناجيح، جلد:7، صفحه:22 ملتقطًا۔

اے عاشِقانِ رسول! دا صرف يوه واقعه نه ده، د صحابه كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان په ژوند كښې داسې ډير واقعات موجود دي چې د هغې نه پته لګي چې صحابه كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضګئ نه ويريدل او د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راضي كولو په خاطر به ئې خپل مال، ځان او بدن هرڅه قربانولو نه به هيڅ كله هم نه شا ته كيدل. په دې كښې زمونږ د پاره هم سبق دے، هره هٰغه خبره، هر هٰغه كار، هر هٰغه نظريه، هر هٰغه انداز، هر هٰغه عادت كوم چې د رسُولُ اللّٰه، احمدِ مجتبٰـى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضګئ سبب ګرځي، د يو مسلمان دا شان دے چې هره هٰغه خبره، هر هٰغه كار او عادت فوراً د مخكښې نه پريږدي او د خپل خوږ آقا و مولا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راضي كولو فكر اوكړي ځكه چې

جنابِ مصطفٰے ہوں جس سے ناخُوش
نہیں ممکن کہ ہو اس سے خدا خُوش[1]

## اللّٰه او رسول راضي كړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يقيناً كامياب هم هغه دے خوك چې د اللّٰه پاك او د هغه خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي كولو كښې كامياب شي او په اصل كښې ناكامه هم هغه دے خوك چې د اللّٰه او رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي كولو كښې ناكامه شي. اللّٰه پاك په قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

وَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ یُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۲﴾
(پاره:10، التوبة:62)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزالعِرفان: حالانكه اللّٰه او رسول د دې خبرې زيات حقدار دي چې خلق ئې راضي كړي، كه ايمان والا ئې.

[1]...حدائقِ بخشش، صفحه:109۔

يقين اوکړئ! په ډير په نقصان کښې دے هغه بنده د چا نه چې شفاعت کوونکے آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعلق ختمولو اظهار اوفرمائي. د هغه دُنيا هم برباده ده او آخرت ئې هم برباد دے، په دې وجه په مونږه باندې لازم دي چې د خپل ژوند يو ساعت، هره ورځ، هر منټ، هره ګهنټه د الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي کوونکي کارونو کښې تير کړو او هر هغه کار د کوم نه چې زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بيزارئ اظهار کړے دے د هغې نه پوره پوره د بچ کيدو کوشش اوکړو.

## هغه زمـونږ نه نه دے

په ډيرو احاديثو کښې دغه شان ارشادات دي چې کوم بنده فلانے کار اوکړي يا فلانے کار اونکړي لَيْسَ مِنَّا هغه زمونږ نه نه دے. يعني هغه زمونږ په طريقه باندې نه دے. زمونږ د خوښو [خلقو] نه نه دے يا مونږه د هغه نه بيزاره يو. راځئ! د دې مضمون يو څو حديثونه اورو او نِيَّت کوو چې د داسې کارونو نه به بچ کيږو او د الله پاك او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي کولو پوره پوره کوشش به کوو.

## (1) په خوش اِلحانئ سره قرآن نه لوستل

زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْاٰنِ يعني څوك چې په خوش اِلحانئ سره قرآن اونه لولي ، هغه زمونږ نه نه دے.[1]

---

[1]...بخاری،کتاب التوحید،باب قول الله تعالیٰ و اسروا قولکم...الخ،صفحه:1815،حدیث:7527۔

الحاج مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیثِ پاك په شرح کښې لیکي: د يَتَغَنَّ معنٰی ده: خوش الحاني او په ښکلي لهجه کښې لوستل. د دې نه معلومه شوه چې بد آواز والا دې هم د طاقت په قدر ښه قرآن شریف لولي چې خوش آوازي د قرآنِ کریم کالے دے. یو ځائے مفتـي صاحب لیکي دي: یو کس خپل آواز بد هم ویستے شي او ښه هم، مطلب دا دے چې کوم بنده ښومره ښائسته آواز ویستے شي، په هغه همره ښه آواز سره دې تلاوت اوکړي، دا مطلب نه دے چې د چا آواز ښه نه دے هغه دې هډو تلاوت نه کوي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په حدیثِ پاك کښې خو دا ارشاد اوشو چې څوك په ښه آواز او ښه لهجے سره د قرآنِ کریم تلاوت اونکړي، هغه زمونږ نه نه دے، خو نن مونږه غور اوکړو، مونږه خو د دې نه هم یو قدم شاته یو، پوښتنه کول یا لاس اوچتول مناسِب نه دي، په مونږ کښې دې هر یو پخپله غور اوکړي چې مونږه د قرآنِ کریم څومره تلاوت کوو؟

هائے افسوس! په میاشتو میاشتې تیرې شي د قرآنِ کریم تلاوت کول خو لا لرې خبره ده، د دې [قرآنِ مجید] لیدلو هم توفیق نه نصیب کیږي...!! کاش! مونږه د قرآنِ پاك، د الله پاك دې پاك کلام قدر اوکړو، الله پاك مونږ له سترګې راکړي دي، ژبه ئې راکړې ده، آواز ئې را عطا کړے دے، په دې سترګو د قرآنِ کریم زیارت اوکړو، په دې ژبه د الله پاك د کلام تلاوت اوکړو، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! په ژوند کښې به سکون راشي، الله پاك اوغواړي نو سینه به مو د قرآنِ کریم نه روښانه شي، دُنیا به مو ښکلې شي، او آخرت به مو هم ښائسته شي.

---

[1]...مرآة المناجیح، جلد:3، صفحه:274266 ملتقطًا۔

## کاش! دا آواز په تلاوت کښې استعمال شوے

روايت دے: يو ځل صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چرته روان وو، اوئې ليدل چې يو سندر غاړے ډير په ښکلي آواز کښې سندرې وئيلے، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: کاش! دا آواز د قرآنِ کريم د تلاوت د پاره استعمال شوے. د دې وئيلو سره هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تشريف يوړلو. وروسته چې کله سندر غاړي ته پته اولګيده چې حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په دې ځائے تيريدلو او هغوئي دا خبره اوفرمائيله، هغه ډير اوشرميدلو، د هغوئي ښکلي مينه ناکه خبره د هغوئي په زړه اولګيدله، هغه فوراً رښتيني توبه اوکړه او د حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره ئې اوسيدل شروع کړه، څه موده پس هغوئي د قرآن عالِم او قاري جوړ شو.[1]

يہی ہے آرزو تعليمِ قرآں عام ہو جائے
تِلاوت کرنا ميرا کام صبح و شام ہو جائے

الله پاك دې مونږ ته هم د قرآنِ کريم د تلاوت توفيق را عطا کړي، مونږه تلاوت اوکړو، په ښه او ښکلي آواز سره ئې اوکړو، الله پاك چې څنګه آواز راکړے دے، چې څومره کيدے شي په ښه لهجه کښې تلاوت اوکړو. البته! دا ياد لرئ چې په ښه لهجه کښې لوستل هغه وخت وئيل کيږي کله چې د تجويد د قواعدو لحاظ اوساتلے شي، د ښه لوستلو په کوشش کښې د تجويد قواعد ماتول تيك نه دي.

که قرآنِ کريم لوستل نه درځي نو زده کړئ ئې، د تجويد سره لوستل نه درځي نو تجويد زده کړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي په نګرانئ کښې

[1]...مرآۃالمناجيح، جلد:3، صفحه:270 بتغير قليل۔

په جماتونو، دُکانونو، دفترونو کښې **مدرسةُ المَدينه بالغان** لګي، په دې کښې شرکت کوئ! که تاسو جسماني طور په کلاس کښې د زده کولو وخت نه مومئ نو آن لائن کلاس واخلئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي په نګرانئ کښې آن لائن علمِ دِين زده کولو هم انتِظام شته دے. آن لائن درسِ نظامي (يعني عالِم کورس) هم کيږي. مختلف مختصر کورسونه هم کيږي او د درست تجويد و قراءت سره قرآنِ کريم لوستل هم زده کولے کيږي. د لږ وخت کلاس وي، په دې کښې شرکت اوکړئ! قرآن لوستل زده کړئ! شارټ [يعني مختصر] کورسونه اوکړئ او درسِ نظامي (يعني عالِم کورس) هم اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير برکتونه به درنصيب شي. الله پاك دې مونږ ټولو ته د قرآنِ کريم زده کولو، لوستلو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق را عطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2) د سُنَّت نه بےپرواهي

رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّي يعني چا چې زما د سُنَّت نه بےپرواهي اوکړه، هغه زما نه نه دے.[1]

علمائے کرام د دې حديثِ پاك په شرح کښې فرمائي: مطلب دا دے چې کوم بنده يو سُنَّت بد اوګڼي، هغه د اسلام نه خارِج [يعني وتلے] دے او څوك چې بے د څه عُذر نه د سُنَّت پريښودو عادت لري هغه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ شوو او پرهيزګارو خلقو نه نه دے.

---

[1]...بخاری، کتاب النکاح، باب الترغيب فی النکاح، صفحه: 1307، حديث: 5063۔

زمونږ د مُعاشرے دا هم یو کمزورے اړخ دے، زمونږ په معاشره کښې د سُنتونو نه ډیر زیات بےپرواهي کیږي، په سُنتونو باندې عمل کول خو وروسته خبره ده، د سُنتونو پیژندګلو را ته هم کله شته دے؟ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تلل څنګه کول؟ څنګه به کښیناستلو؟ د طعام تناول کولو مبارك انداز ئې څنګه وو؟ د آرام کولو انداز ئې څنګه وو؟ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږې خوږې اداګانے څه دي؟ د دې را ته هډو معلومات هم نشته. آو! نوے فیشن کوم چلیږي؟ دا را ته معلوم دي؟ نن سبا په مارکیټ کښې د موبائل نوے ماډل کوم یو دے؟ د موټر کار نوے ماډل کوم یو دے؟ په پیزار، جامو وغیره کښې کوم رنګ چلیږي؟ دا ټول معلومات را ته شته دے خو افسوس! د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنتونو معلومات را ته ډیر کم دي او د کومو سُنتونو معلومات چې راته دي، په هغې باندې هم عمل نه کیږي، د مثال په طور ږیره مبارکه واخلئ! کوم یو مسلمان دے چې پته ورته نه وي چې ږیره ساتل د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي خو څوك د نورو نه شرمیږي، څوك د نوکرۍ فکر ویروي، څوك د بل څه په وجه او بعضې د بل څه په وجه د سُنَّت خپلولو نه محرومه پاتې کیږي. کاش! مونږ ته د سُنَّتونو محبت نصیب شي.

خدا و مصطفٰے ناراض ہوتے ہیں سنوان سے    جو داڑھی کو مُنڈاتے ہیں یا مُٹّھی سے گھٹاتے ہیں

وسائل بخشش، صفحه:291

## په سُنَّت باندې د عمل کولو په برکت سره ئې بخښنه اوشوه

اِمام ذَهبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: عَلّامه هِبَةُ الله طبري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات شو نو حضرت علي بِن حُسین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي په خوب کښې اولیدلو. پوښتنه ئې ترې اوکړه: الله پاك تاسو

سره څه مُعامله اوفرمائيله؟ جواب ئې ورکړو: الله پاك زه اوبخښلم. عرض ئې اوکړو: په کوم سبب؟ اوئې فرمائيل: د سُنَّت په وجه.[1]

سُبْحٰنَ الله! تاسو اوليدل چې په سُنَّت باندې عمل کول د بخښنې ذريعه جوړيږي. يقيناً کامياب و کامران هغه دے کوم چې د فرائض او واجباتو ادا کولو سره سره د رسول ذِيشان، مکي مدني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنتونو باندې عمل کوونکے جوړ شي.

## په جنَّت کښې د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ

د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! زمونږ په معمولاتو ډير کارونه داسې دي کوم چې که د سُنَّت مطابق اوکړے شي نو مونږه د ثواب حقدار جوړيدے شو مثلاً د سُنَّت مطابق خوړل ځښل، تلل راتلل، اوده کيدل پاځيدل، مسواك کول، جامے اغوستل، پيزار پښپو کول او اوباسل، تيل لګول، نوکان کټ کول، خبرې کول وغيره، که مونږه دا ټول کارونه د سُنَّت مطابق شروع کړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! په ورځ او شپه کښې به په زرګونو نيکئ ګټلو کښې کامياب شو.

تری سُنّتوں پہ چل کر مری روح جب نکل کر
چلے تو گلے لگانا مدنی مدینے والے
ترے نام پر ہو قرباں مری جان، جانِ جاناں
ہو نصیب سَر کٹانا مدنی مدینے والے

---

[1] ...سير اعلام النبلاء، رقم:3788، ہبة الله بن الحسن بن منصور، جلد:13، صفحه:270 ملتقطًا۔

[2] ...تاريخ مدينه دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

خوږواو محترمو اسلامي ورونړو! د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المَدينه د بهارِ شريعت جلد 3 نه حصه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب اولولئ! د سنتونو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| سنتيں سيکھنے تين دِن کے لئے | ہر مہينے چليں، قافلے ميں چلو |
| رَبّ کے در پر جھکيں، التجائيں کريں | بابِ رحمت کھليں، قافلے ميں چلو |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3) مسلمان ته دوکه ورکوونکے زمونږ نه نه دے

د الله پاك محبوب نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنۡ غَشَّنَا فَلَيۡسَ مِنَّا يعني چا چې زمونږ سره دوکه اوکړه هغه زمونږ نه نه دے.[1] يعني چا چې مسلمان ته دوکه ورکړه، هغه زمونږ د ډلے نه نه دے.[2]

اے عاشِقانِ رسول! دا هم زمونږ د معاشرے يو تك تور اړخ دے، نن سبا دوکه دومره عامه ده چې بس ... د الله پاك پناه! د دوکے کولو داسې داسې انداز دي چې بيانولو سره زړه درزيږي❀په کاروبار کښې دوکه ❀په ناپ تول کښې دوکه❀په اصل ښودلو سره نقلي څيزونه خرڅولے کيږي❀يو نمبر ښودلو سره دويم نمبر څيزونه ورکړے کيږي

[1] ...مسلم، کتاب الايمان، باب قول النبی...الخ، صفحه:57، حديث:101۔
[2] ...مرآة المناجيح، جلد:5، صفحه:254 خلاصةً۔

❀ د موبائل په ذريعه دوكه وركړے كيږی❀ داسې موبائل ايپلي كيشن موجود دي، په كومو كښې چې دوكه وركړے كيږي❀ د دروغو قِصّے اورول ❀ د خپل ځان له طرفه د درد او تكليف نه ډكې قِصّے جوړول، خلقو ته اوروِل او د هغوئي نه مال اخستل ❀ د يو څو منټو د پاره موبائل واخلي او داسې فنكشنز استعمال كړي چې د سړي مال لوټ شوے ئې، هغه ته هډو خبر نه وي غرض چې د دوكه وركولو داسې انداز راغلي دي چې د صحيح او پوهه انسان دماغ خراب كړي او لوټ ئې كړي، هغه په خپل لاس خپل جمع شوے دولت حواله كوي او هغه ته خبر نه وي.

دا دوكه وركوونكي خلق د **ربِّ قَهَّار** نه نه ويريږي، په دوكے سره مال لُوټ كوي او خوشحالئ مناوهي او چا ته چې ئې دوكه وركړي ده، د هغه بےوسه [غريب] ژوند برباد شي، د هغه اولاد د لوږې نه ژاړي، د كور نغرے ئې نه بليږي، تردې پورې چې د دوكه خوړونكو خلقو د خود كشئ واقعات هم موجود دي.

الله پاك دِ دې دوكے وركوونكو ته هدايت نصيب كړې. مسلمان ته دوكه وركول سخته ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونكے كار دے. په حديثِ پاك كښې دي: 3 كسان به جنَّت ته نه داخليږي، په هغوئي كښې يو دوكه باز هم دے.[1]

## درے واړه مړه شول

اے عاشِقانِ رسول! دا د دُنيا دولت چې عام طور د دې په لالچ كښې دوكه وركړے كيږي، **ياد ساتئ!** دا دولت ډير بے وفا دے، د دې لالچ انسان په دُنيا كښې هم او په

[1]...ترمذی،کتاب البر و الصلة ،باب ما جاء فی البخل،صفحه: 479 ،حدیث:1963ملتقطًا۔

آخرت کښې هم تباه او برباد کوي. د **اِحیاءُ العلوم** په شرح کښې دا واقعه لیك ده چې یو ځل یو کس ته چرته ډیر سره زر میلاؤ شو، هغه هُغه [سره زر] په څادر کښې را اونغښتل یواځې کور طرف ته روان شو. په لاره کښې ورته دوه کسان میلاؤ شو، هغوئي چې اولیدل چې د ده سره سره زر دي نو د ده وژلو ته تیار شو چې سره زر ترې واخلي. هغه کس د خپل ځان بچ کولو د پاره اووئیل: تاسو ما ولے وژنئ؟ مونږ به دا سره زر درے حصے کړو او یوه یوه حصه به تقسیم کړو. هغه دواړه په دې باندې راضي شو. دا درے واړه لالچیان وو او درے واړو یو بل ته دوکه ورکول غوښتل. واقعه داسې پیښه شوه چې په دوئي کښې یو اووئیل: یو کس دې لږ سره زر واخلي او نزدې ښار ته دې لاړ شي او طعام دې واخلي او راوړي دې چې مونږه خوراك اوکړو او سره زر تقسیم کړو. په دوئي کښې یو کس ښار ته اورسیدو، طعام ئې واخستلو او بیرته راتللو نو سوچ ئې اوکړو چې ولے نه په طعام کښې زَهر میلاؤ کړم چې دواړه ئې اوخوري او مړه شي او په ټولو سرو زرو باندې زه قبضه اوکړم. په دې سوچ سره ئې زهر واخستل او په طعام کښې ګډ کړل. هلته هغه دواړو دا سازش کړے وو چې څنګه هغه طعام راوړي مونږ دواړه به پرې حمله اوکړو او قتل به ئې کړو بیا به سره زر نیم نیم په خپل مینځ کښې تقسیم کړو. کله چې هغه کس طعام راوړو نو دواړو په هغه باندې حمله کړه او هغه ئې اووژلو. د دې نه پس په خوشحالئ خوشحالئ د طعام خوړلو د پاره کښیناستل نو زهرو خپل کار ښکاره کړو او دا دواړه لالچیان هم په تاویدو تاویدو مړه شو او سره زر په هغه ځائے باندې هم هغسې پاتې شو.[1]

---

[1]...اِتحافُ السَّادَةِ المُتّقِین، کتاب ذم البخل، بیان ذم الغنی و مدح الفقر، جلد:9، صفحه:836بتغیر قلیل۔

اَمیرِاهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د نصیحت مدني ګل پیش کوي او فرمائي:

مال ودولت کے عاشِقوں کی ہر | آرزو نا تَمام ہوتی ہے[1]

وضاحت: يعني د دُنيا حرص لرونکے او لالچي انسان په خپلو نفساني خواهشاتو پسې شا ته شا ته روان اوسي تردې چې د مرګه پورې د ده اُميدونه پوره نشي او هغه په خپل زړه کښې د خواهشاتو باغ جوړ کړے قبر ته لاړ شي.

الله پاك دې مونږه د حرص او لالچ نه محفوظه اوساتي او په دې لالچ کښې د راتللو سره مسلمانانو ته د دوکه ورکولو نه هم هر وخت بچ اوساتي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (4) د غير جنس سره مشابَهَت کوونکے زمونږ نه نه دے

خوږ آقاء مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: لَيْس مِنَّا مَنْ تَشَبَّه بِالرِّجَال مِنَ النِّسَاءِ وَلَا مَنْ تَشَبَّهَ بِالنِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ يعني کومه زنانه چې د نارينؤ او کوم نارينه چې د زنانؤ مشابَهَت اختيار کړي هغه زمونږ نه نه دے.[2] [يعني زنانه خپل ځان د نارينؤ په شان او نارينه خپل ځان د زنانؤ په شان جوړ کړي]

په موجوده دور کښې هم دا يو وَبال دے چې سړو ته د زنانؤ په شان او زنانؤ ته د سړو په شان حليه جوړولو خامخا شيطاني شوق را اوچت شوے دے. ❀ په غوږونو کښې والۍ اچول ❀ په لاسونو کښې کړۍ اچول ❀ د اوګو نه لاندې اوګږده اوګږده ويښته ساتل ❀ [د سر په ويښتو کښې] چونټۍ تړل ❀ زنانه ګوتمې په ګوته کول ❀ په لاسونو او ښپو باندې نکريزې لګول، دا ټول د زنانؤ کارونه دي خو څوك چې د ضرورت نه زيات فيشن پرست وي يا چا ته چې د ديني معلوماتو کمے وي هغه نارينه هم داسې کارونه کوي.

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه: 495۔

[2] ...مسندِ امام احمد، جلد: 3، صفحه: 634، حديث: 7054۔

دغه شان بعضې ناپوهه زنانه هم داسې شوق لري، ❁ د نارينؤ په شان واړه واړه وينښته ساتل ❁ دنارينؤ جامے اغوستل ❁ د نارينؤ په شان پيزار پښپو كول وغيره په هغوئي كښې موندلے كيږي. ياد ساتئ! نارينه ته د زنانؤ او زنانه د نارينؤ وضع [قطع] اختيارول ناجائز او ګناه ده. په **فتاوٰی رضويه شريف** كښې دي: نارينه ته د زنانؤ د وضع يوه خبره اختيارول حرام دي. رسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغه باندې لعنت فرمائيلے دے.[1]

## 3 كسان به د جنَّت نه (په شروع كښې) محرومه پاتې كيږي

په حديثِ پاك كښې دي: 3 كسان به هيڅ كله جنَّت ته داخل نشي: **(1)** دَيُّوث **(2)** د نارينؤ په شان زنانه او **(3)** د شرابو عادي. صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوكړو: د شرابو عادت لرونكے خو مونږه اوپيژندلو، دَيُّوث څوك دے؟ اوئې فرمائيل: هغه انسان كوم چې د دې خبرې پرواه نه كوي چې د ده كور والؤ خوا ته څوك څوك راځي؟ مونږه عرض اوكړو: د نارينؤ په شان زنانه څوك دي؟ اوئې فرمائيل: كومې [زنانه] چې د سړو مشابَهَت اختياروي.[2] [يعني هغه زنانه كومې چې خپل ځان د سړو په شان جوړوي]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (5) چا چې د سلام جواب ورنكړو هغه زمونږ نه نه دے

آخري نبـي، رسول هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: مَنْ اَجَابَ السَّلَامَ فَهُوَلَهٗ وَمَنْ لَّمْ يُجِبِ السَّلَامَ فَلَيْسَ مِنَّا يعني چا چې د سلام جواب وركړو، ثواب به اوموي او چا چې د سلام جواب ورنكړو هغه زمونږ نه نه دے.[3]

---

[1] ...فتاوٰی رضويه، جلد:21، صفحه:600۔

[2] ...مجمع الزوائد، كتاب النكاح، باب فيمن يرضى لاهله بالخبث، جلد:4، صفحه:427، حديث:7722۔

[3] ...عمل اليوم و الليلة لابن السنی، باب التغليظ فی ترک رد السلام، صفحه:96، حديث:212۔

## د سلام جواب اسلامي حق دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! كله چې يو مسلمان سلام اوكړي نو د هغې جواب وركول اسلامي حق دے. الله پاك په قرآنِ كريم كښې فرمائي:

وَ اِذَا حُیِّیْتُمْ بِتَحِیَّةٍ فَحَیُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَاۤ اَوْ رُدُّوْهَاؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ حَسِیْبًا ﴿۸۶﴾

(پاره:5، النساء:86)

[مفهوم] ترجمۂ كَنزُالعِرفان: او چې كله تا ته په يو لفظ سره سلام اوكړے شي نو ته د هغې نه په بهتر لفظ سره جواب وركړه يا هم هغه الفاظ اووايه بيشكه الله په هر څيز باندې حساب اخستونكے دے.

په تفسير صراطُ الجِنان كښې د دې آيت لاندې ليك دي: سلام كول سُنَّت دي او جواب وركول فرض او په جواب كښې افضل دا دي چې په سلام كوونكي باندې سلام څه زيات كړي مثلاً وړومبے كس اَلسَّلَامُ عَلَیْكُمْ اووائي نو دويم كس دې وَعَلَیْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ اووائي او كه وړومبي ورسره وَرَحْمَةُ اللّٰهِ هم وئيلي وو نو دا دې وَبَرَكَاتُهٗ زيات كړي. د دې نه زيات په سلام او جواب كښې نور زيات والے نشته.[1]

## په 100 كښې 90 رحمتونه چا ته نصيب كيږي؟

فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: كله چې دوه مسلمانان ملاقات كوي او په هغوئي كښې يو خپل ملګري ته سلام كوي نو په دوئي كښې الله پاك ته نزدې زيات محبوب (يعني خوښ) هغه دے كوم چې د خپل ملګري سره زيات په ګرم جوشئ سره ملاقات

---

[1]...تفسير صراط الجنان، پاره:5، النساء، زيرِ آيت:86، جلد:2، صفحه:264۔

كوي، بيا چې كله هغوئي لاس ميلاؤ كړي نو په هغوئي باندې 100 رحمتونه نازليږي، په هغوئي كښې 90 رحمتونه (په سلام كښې) وړاندې والے كوونكي د پاره او 10 رحمتونه لاس ميلاؤ كوونكي د پاره دي.[1]

په يو **حديثِ پاك** كښې فرمائي: كله چې دوه مسلمانان د ملاقات كولو په وخت په خپل مينځ كښې لاس ميلاوهي نو د هغوئي د جُدا كيدو نه مخكښې د هغوئي بخښنه كيږي.[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (6) د ګاونډي حق ضائع كوونكے زمونږ نه نه دے

خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: فَمَنْ ضَيَّعَ حَقَّ جَارِهٖ فَلَيْسَ مِنَّا يعني خوك چې د خپل ګاونډي حق ضائع كړي هغه زمونږ نه نه دے.[3]

## د ايمان كامل كيدو د پاره ضروري عمل

اے عاشِقانِ رسول! په اسلام كښې ګاونډي ته ډير اهميت حاصل دے، تر دې پورې چې هغه اعمال د كوم په ذريعه چې زمونږه ايمان كامل كيږي، په هغې كښې د ګاونډي سره حُسنِ سلوك يعني ښه سلوك هم شامل كړے شوے دے يعني مونږه تر هغه وخته پورې كامِل مؤمن نه شو كيدے تر څو پورې چې د ګاونډي حقوق ادا

---

[1]…مسندِ بزّار، جلد:1، صفحه:437، حديث:308۔

[2]…ترمذی،کتاب الاستئذان والآداب،باب ماجاء فی المصافحة،صفحه:641،حديث:2727۔

[3]…بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث،کتاب الصلاة،باب فی خطبة …الخ،جز:1، صفحه:312، حديث:205

نکړو. د حضرت عبدُ الله بِن مسعود نه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ روايت دے چې د الله پاك آخري نبـي، رسول هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: لَا يُؤۡمِنُ عَبۡدٌ لَا يَاۡمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ هغه بنده (کامِل) مؤمِن نه دے د چا ګاونډي چې د هغه د شر نه محفوظ نه وي.[1]

## ګاونډي ته تکليف رسوونکي عبادت ګزاره زنانه

اِمام بُخاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه حديثِ پاك نقل کوي چې يو ځل د الله پاك آخري نبـي رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض اوکړے شو: يَا رَسُولَ اللّٰـه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! فُلانئ زنانه ټوله شپه عبادت کوي، د ورځې روژه نيسي، ډيره نيکه ده، صدقه او خيرات هم کوي خو هغه په خپلې ژبے سره ګاونډيانو ته تکليف رسوي. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا خَيۡرَ فِيۡهَا په دې کښې څه خير نشته هِيَ مِنۡ اَهۡلِ النَّارِ دغه د دوزخيانو نه ده. صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان د يوے (دويمې زنانه ذکر کولو سره عرض اوکړو: يَا رَسُولَ اللّٰـه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) فُلانئ زنانه لمُونځونه کوي، پنير صدقه کوي او هيڅ چا ته تکليف نه رسوي. ارشاد ئې اوفرمائيلو: هِيَ مِنۡ اَهۡلِ الۡجَنَّةِ هغه د جنَّتيانو نه ده.[2]

اے عاشِقانِ رسول! نن په دې **حديثِ پاك** باندې بيا بيا د غور کولو حاجت دے...! لږ سوچ اوکړئ! څوك چې خپل ګاونډي ته تکليف رسوي، هغه څومره په نقصان کښې دے خو افسوس! زمونږ خلق د دې خبرې هډو خيال نه ساتي ❁ خلق د خپل کور خزله بهر د ګاونډي د دروازے مخے ته غوزاري ❁ په کور کښې وخت بے وخته په

[1] ...مسندِ بزّار، جلد:16، صفحه:215، حديث:9362۔

[2] ...الادب المفرد، باب لا يؤذى جاره، صفحه:48، حديث:119۔

اوچت آواز خبرې کوي ❀ شور کوي او د دې خبرې پرواه نه کوي چې زمونږ د شور نه ګاونډي ته هم تکليف رسيدے شي ❀ د چا په کور کښې د واده خوشحالي وي نو بيا خو د ګاونډي خوب حراميږي، يو خواه خو د سندرو باجو ګناه، د پاسه پرې غټ غټ ډيکونه لګولي وي او په اوچت آواز سره ئې چلوي، چا ته تکليف رسي، د چا خوب خرابيږي، څوك بےوسه بيمار دے، هغه ته تکليف دے، د وړو ماشومانو خوب خرابيږي، هغوئي هډو پرواه نه لري [چې مونږه هم چا ته تکليف رسوو]، ❀ بعضې خلق د شپې په وخت د شور زوَرک [کارونه] شروع کوي، اګرچې دا ګناه نه ده خو د شپې په وخت په خپل کور کښې هم داسې کار کولو سره د ګاونډي په خوب کښې خلل راتلے شي. په دې وجه داسې کار دې په ورځ کښې اوکړي د پاره د دې چې ګاونډيانو ته تکليف نه وي.

پڑوسی کو بھائی! نہ ہرگز ستانا　　وگر نہ جہنّم بنے گا ٹھکانا

## د ګاونډي چيلئ ته هم تکليف مه رسوئ...!

اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت اُمِّ سلمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: د يو ګاونډي چيلئ زمونږ کور ته را ننوته او هغې دوډئ په خُله کښې اوچته کړه، زه چيلئ طرف ته وراغلم او دوډئ مې د چيلئ د جامو نه راويستله. (خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه په داسې کولو اوليدلم نو) اوئې فرمائيل: (اے اُمِّ سلمه!) چيلئ ته تکليف ورکول به تا ته امان در نکړي ځکه چې دا هم ګاونډي ته د تکليف ورکولو نه څه کم نه دي.[1]

---

[1]...مکارم الاخلاق للطبرانی، باب قوله: لا قليل من اذی الجار، جزء الثانی، صفحه:395، حديث:239۔

## د قيامت په ورځ ورږومبے حساب

د حضرت عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د قيامت په ورځ به ورومبي جګړے كوونكـي دوه ګاونډيان وي.[1]

يعني د قيامت په ورځ به د ټولو نه ورومبي د ګاونډيانو جګړے ختمولے كيږي. بيا به د نورو [مُعاملاتو حساب كيږي]. خيال كوئ! په عباداتو كښې به ورومبے د لمَانځه حساب كيږي، په معاملاتو كښې به ورومبے حساب د ناحقې وينې وي او د حقونو ادا كولو په مُعامَله كښې به ورومبے حساب د ګاونډيانو وي.[2]

پڑوسی کو بھائی! نہ ہر گز ستانا | وگرنہ جہنّم بنے گا ٹھکانا

## اميرِ اهلسُنَّت او ناراضه ګاونډي

اے عاشِقانِ رسول! غور اوكړئ! د ګاونډي معامله څومره اهمه ده چې په ورځ د قيامت به د ګاونډيانو د جګړو حساب اول اخستے كيږي. مونږ له پكار دي چې د دُنيا نه د تللو نه مخكښې مخكښې دلته [په دُنيا كښې] د ګاونډيانو د جګړو وغيره مُعاملات حل كړو، خدائے دې نكړي كه يو ګاونډي زمونږ نه ناراضه وي، په هغې كښې كه زمونږه غلطي وي يا نه وي، بهرحال هغه راضي كړئ. په دې كښې مو د دُنيا او آخرت خير دے.

---

[1]…معجم الكبير، جلد:7، صفحه:148، حديث:14252۔

[2]…مرآةالمناجيح، جلد:6، صفحه:583ملتقطًا۔

يو ځل د شيخِ طريقت اميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ يو ګاونډي د هغوئي نه ناراضه شوے وو، هغوئي [يعني امير اهلسُنَّت] څه غلطي هم نه وه کړې، بس هغه ته غلط فهمي شوي وه. هغه [ګاونډي] د هغوئي خلاف ډيرې خبرې هم اوکړې، هغوئي چې چرته د جمات امام وو، هلته لاړو او د لمُونځ ګزارو په مخ کښې ئې ډير شور زوَګ هم اوکړو خو قربان شم! د امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د حکمتِ عملئ نه، هغوئي د هغه نه څه بدله وا نه اخستله، يوه ورځ هغه ناراضه ګاونډي د هغوئي په محله کښې د يو څو سړو سره ولاړ اوليدلو، هغوئي [يعني امير اهلسُنَّت] ناڅاپه ورمخکښې شو او هغه ته ئې سلام اوکړو. خو هغه څه زيات ناراضه وو، هغه ترې مخ واړولو. په دې باندې امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په جذباتو کښې رانغلو بلکه نور ور مخکښې شو او سينے ته ئې راجوخت کړو، د هغه نوم ئې واخستلو او د محبت نه ډك انداز کښې ئې اووئيل: ډير ناراضه شوے ئې. بس د نرمئ دا الفاظ وئيل وو چې د هغه غُصَّه ختمه شوه. بےاختياره د هغه په ژبه دا الفاظ راغلل: نه! وروره! نه! الياس وروره! هيڅ څه ناراضګي نشته! بيا هغوئي [يعني امير اهلسُنَّت] هغه خپل کور ته بوتللو او د هغه خيرخواهي [يعني ميلمستيا] ئې هم اوکړه.[1]

| | |
|---|---|
| ہے فَلاح و کامرانی نرمی و آسانی میں | ہر بنا کام بگڑ جاتا ہے نادانی میں |
| ڈوب سکتی ہی نہیں موجوں کی طُغیانی میں | جس کی کشتی ہو مُحَمَّد کی نگہبانی میں |

## د ګاونډيانو يو څو حقونه

اے عاشِقانِ رسول! خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاونډي حق ضائع کوونکي نه د بيزارئ اظهار اوکړو او اوئې فرمائيل: څوك چې د ګاونډي حق ضائع

[1]...تعارفِ امیرِ اہلسنت، صفحہ: 41 و 42 خلاصةً۔

کړي، هغه زمونږ نه نه دے. دلته د ګاونډیانو د حقونو د پیژندګلو اهمیت هم پته لګي، ښکاره خبره ده چې مونږ ته د ګاونډیانو حقونه معلوم وي نو هله به د هغوئي حقونه پوره کړو. راځئ! د ګاونډیانو یو څو حقونه اورو: آخري نبـي رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: تاسو پیژنئ د ګاونډي حق څه دے؟ بیا ئې اوفرمائیل: ❀ که هغه ستاسو نه مدد اوغواړي نو د هغه مدد اوکړئ ❀ که ستاسو نه قرض اوغواړي نو قرض ورله ورکړئ ❀ که هغه محتاجه وي نو د هغه حاجت پوره کړئ ❀ که ناجوړه شي نو تپوس ئې اوکړئ ❀ که مړ شي نو د هغه په جنازه کښې شرکت اوکړئ ❀ که هغه ته څه خیر اورسي نو مبارکي ورله ورکړئ ❀ که هغه ته څه مصیبت اورسي نو غمرازي ئې اوکړئ ❀ د هغه د اجازت نه بغیر د هغه د کور نه خپل کور اوچت مه جوړوئ چې هغه ته هوا نه ځي ❀ ګاونډي ته تکلیف مه رسوئ ❀ که تاسو څه میوه راوړئ نو ګاونډي له ترې هم څه اولیږئ ❀ که داسې نه شئ کولے نو پټه ئې راوړئ او خپلو ماشومانو بچو له هم میوه د کور نه بهر ته اوباسلو له مه ورکوئ چې د ګاونډیانو بچي به د هغه میوې په وجه پریشانه شي ❀ او د خپل نغري د لوښي د خوشبوئې نه ګاونډي ته تکلیف مه رسوئ خو دا چې څه لږ انګولے هغوئي له هم اولیږئ. د دومره فرمائیلو نه پس خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَتَدْرُوْنَ مَا حَقُّ الْجَارِ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ مَا یَبْلُغُ حَقَّ الْجَارِ اِلَّا قَلِیْلاً مِّمَّن رَّحِمَ اللّٰهُ یعني تاسو پیژنئ د ګاونډي حق څه دے؟ په هغه ذات مې دې قَسَم وي د چا په قدرت کښې چې زما ځان دے! د ګاونډي حق هغه کس ادا کولے شي په چا چې اللّٰه پاك رحم اوفرمائي.[1]

[1] ...شُعَبُ الایمان، باب فی اکرام الجار، جلد:7، صفحه:83، حدیث:9560۔

الله پاك دې مونږ ټولو له د ګاونډيانو، خپلوانو، مور و پلار، خويندو وروڼړو وغيره حقونو ادا كولو، د هغوئي خيال ساتلو او هغوئي سره د حسنِ سلوك كولو توفيق را عطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (7) په لمَانځه كښې د كارغه په شان ټونګې وهلو والا زمونږ نه نه دے

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: لَيْسَ مِنَّا مَنْ يَنْقُرُ نَقْرَ الْغُرَابِ يعني څوك چې د كارغه په شان ټونګې وهي، هغه زمونږ نه نه دے.[1]

د دې حديثِ پاك مطلب دا دے چې په لمَانځه كښې د سجده كولو په وخت كوم بنده داسې تادي كوي چې سر په سجده كښې كيږدي او فوراً ئې را اوچت كړي، هغه داسې دے لكه كارغه چې ټونګې وهي، د داسې انسان په باره كښې ئې اوفرمائيل: لَيْسَ مِنَّا يعني هغه زمونږ نه نه دے.

اَللّٰه! اَللّٰه! نن سبا په ديني معاملاتو كښې خلق ډيره زياتي تادي كوي، په سوشل ميډيا باندې، موبائل باندې، فضولياتو كښې، دوستانو سره په ګپ شپ كښې چې څومره ګهنټې تيرې شي، څه پرواه نشته خو چې كله د لمَانځه د پاره اودريږي نو ډير كارونه ورته ور ياد شي، بيا كوشش وي چې زر زر لمُونځ مكمل كړي او نور كارونه اوكړي. څينو ته خو په كارونو كښې تادي وي او د څينو خلقو هسې عادت وي چې په لمَانځه كښې رُكوع او سجدے پوره نه كوي، اَللّٰهُ اَكْبَرُ وئيلو سره ركوع ته لاړ شي،

1... جامع الاصول للجزری، حرف الصاد، جلد:4، صفحه:133، حديث:3497۔

[په رکوع کښې حصار شوے لا نه وي چې] فوراً سر را اوچت کړي، لا سيدها نيغ شوے نه وي چې د اَللّٰهُ اَكْبَرُ وئيلو سره سجدے ته لاړ شي، په سجده کښې له پوره پروت نه وي چې اَللّٰهُ اَكْبَرُ اووائي او پاڅي، سيدها لا ناست نه وي چې دويمے سجدے لاړ شي. **ياد ساتئ!** په لمَانځه کښې داسې تادي کول غلط دي، مونږه پيدا شوي د عبادت د پاره يو، دُنيا ته د راتللو مقصد عبادت دے، بيا عجيبه خبره ده چې نور کارونه کوم چې زمونږ د ژوند مقصد نه دي، په هغې کښې خو ګهنټې ګهنټې تيروو، خو چې کله د اصل مقصد کار شروع کړو نو داسې تادي کوو چې په پوره طريقے سره لمُونځ نه ادا کيږي. داسې خلقو له د خپل لمُونځ فکر کول پکار دي.

## د لمُونځ غل

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په خلقو کښې د ټولو نه بد غل هغه دے کوم چې د لمَانځه نه غلا کوي. صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! يو کس په لمَانځه کښې څنګه غلا کولے شي؟ نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: هغه د دې [لمُونځ] رکوع او سجدے پوره نه ادا کوي. يا ئې ارشاد اوفرمائيلو: هغه په رکوع او سجدو کښې خپله ملا نه سيدها کوي.[1]

**حکيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: معلومه شوه چې د مال د غل نه د لمَانځه غل بد تر دے ځکه چې د مال غل

---

[1] ...مسندِ امام احمد، جلد: 9، صفحه: 311، حديث: 23284۔

که سزا هم اوومومې نو (د غلا د مال نه) څه نه څه نفع هم اخلي خو د لَمانځه غل سزا پوره مومې د هغه د پاره د نفعې څه صورت نشته. د مال غل د بنده حق وهي او د لمُونځ غل د اللّٰه پاك (حق وهي). دا حالت د هغه خلقو دے کوم چې لمُونځ ناقِص ادا کوي، د دې نه دې هغه خلق عبرت واخلي کوم چې هډو لمُونځ نه کوي.[1]

## د بدې خاتمے غندنه

حضرت حُذيفه بِن يمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ يو کس اوليدلو کوم چې لمُونځ کولو او رکوع سجدې ئې پوره نه ادا کولې نو هغه ته ئې اوفرمائيل: "تا لمُونځ نه دے کړے او که ته په دې حالت کښې مړ شوے نو د حضرت سَيِّدُنا محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په طريقه به ستا مرګ نه واقع کيږي."[2] د **نسائي شريف** په روايت کښې دا هم دي چې هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ترې پوښتنه اوکړه: ته د کوم وخت نه داسې لمُونځ کوې؟ هغه اووئيل: د 40 کالو نه. نو هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه ته ارشاد اوفرمائيل: "تا د 40 کالو نه هډو لمُونځ نه دے کړے او که په دې حالت کښې تا ته مرګ راغے نو ته به په دينِ محمدي نه مرې."[3]

اللّٰه پاك دې مونږ ته د تادئ نه د بچ کيدو، ښه په اطمينان، په خُشوع او د زړه په حاضرئ سره د اللّٰه په ياد کښې مشغـوليدلو سره د لمُونځ ادا کولو توفيق را عطا کړې.

نمازوں میں ایسا گما یا الٰہی نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی

---

[1]…مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه:78 بتغير قليل۔

[2]…بخاری، کتاب الاذان، باب اذا لم يتم السجود، صفحه:257، حديث:808 ملتقطًا۔

[3]…نسائی، کتاب السهو، باب تطفيف الصلاة، صفحه:225، حديث:1309 ملتقطًا۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لمُونځ د دِين ستن ده، نن سبا په لمُونځونو کښې ډيره سُستي په نظر راځي، د دې سره سره يوه مسئله دا هم ده چې ډير زيات خلق د لمَانځه د مسائلو نه هم بے خبره دي، چې د هغې په سبب په لمُونځونو کښې ډيرې زياتې غلطيانې کيږي. مونږ له پينځه وخته پاخه، رښتيني لمُونځ ګزاره هم جوړيدل دي او لمُونځ زده کول هم دي. د دې د پاره د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ کتاب نماز کے احکام، اسلامی بہنوں کی نماز، فيضانِ نماز اولولئ! او د دې نه زياته بهتره دا ده چې 7 ورځې فيضانِ نماز کورس اوکړئ! اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ډير څه به زده کړئ. فيضانِ نماز کورس او د دې نه علاوه ډير مختصر کورسونه آن لائن هم کيږي!اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! علمِ دين زده کول به در نصيب شي، په لمَانځه کښې کيدونکي ډيرو زياتو غلطيانو اصلاح به اوشي او د علمِ دين زده کولو ثواب به هم ميلاؤ شي. الله پاك دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را نصيب کړې.

## د بيان خلاصه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! الله او رسول راضي کول د ټولو نه اهم کار دے، مونږه د يو څو احاديثو اوريدلو سعادت حاصل کړو، په کومو کښې چې فرمائيلے شوي دي چې ❀ څوك په خوش اِلحانئ سره تلاوت نه کوي هغه زمونږ نه نه دے❀ څوك چې د سُنَّت نه بےپرواهي ساتي، هغه زمونږ نه نه دے❀ څوك چې مسلمانانو ته دوکه ورکوي، هغه زمونږ نه نه دے❀ نارينه کوم چې د زنانؤ مشابَهَت کوي او زنانه کومه چې د نارينؤ مشابَهَت اختياروي، هغوئي زمونږ نه نه دي

❀ څوك چې د مسلمان د سلام جواب نه وركوي، هغه زمونږ نه نه دے❀ څوك چې د ګاونډيانو حقونه ضائع كوي، هغه زمونږ نه نه دے❀ څوك چې په لَمانځه كښې د كارغه په شان ټونګې وهي (يعني ركوع او سجدې پوره نه ادا كوي)، هغه زمونږ نه نه دے. يعني كوم بنده چې داسې كارونه كوي، خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه نه بيزاره دے.

**الامان والحفيظ!** الله پاك دې مونږه د رسولِ ذيشان، مكي مدني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضئ نه محفوظه اوساتي. كاش! مونږه هميشه د الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي كوونكي كارونو كښې مشغوله اوسيدونكي جوړ شو.

مری زندگی بس تری بندگی میں
ہی اے کاش گزرے سدا یا الٰہی
نہ ہوں اشک بربادِ دُنیا کے غم میں
مُحَمَّد کے غم میں رُلا یا الٰہی

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** داسې نور كارونه د كومو نه چې رسول اكرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بيزارئ اِظهار كړے دے، د هغې د معلوماتو د پاره د مكتبةُ المَدينه رساله **وہ ہم میں سے نہیں** اولولئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار "د سحر لَمَانځه د پاره بيدارول"

**اے عاشِقانِ رسول!** په خپل زړه كښې عشقِ رسول زياتولو، نيك جوړيدلو او د ايمان د حفاظت ذِهن موندلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك **دعوتِ اسلامي** سره شامل شئ

او د خپلو مصروفياتو نه وخت اوباسئ او 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډېر ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې ديني کارونو کښې يو ديني کار "د سحر لمَانځه د پاره را بيدارول" هم دي. **د سحر لمَانځه د پاره را بيدارول سُنَّتِ مصطفٰے** دے ❀ د الله پاك آخري نبـي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د سحر لمَانځه له تللو نو اوده خلق به ئې را بيدارول[1] ❀ د مسلمانانو دويم خليفه اَمِيرُ الْمُؤْمِنِين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْه هم دا انداز وو[2] او ❀ د مسلمانانو خلورم خليفه اَمِيرُ الْمُؤْمِنِين حضرت عَلِـيُّ الْمُرتضٰی رَضِيَ اللهُ عَنْه هم د دې خوږ خوږ سُنَّت عامِل وو[3] ❀ تاسو هم دا سُنَّت خپل کړئ! د سحر لمَانځه د پاره را بيدارول کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! ډېر برکتونه به در نصيب شي❀ نور رابيدار کړو نو بخپله به هم د سحر لمُونځ د جَمعے سره د ادا کولو سعادت ميلاؤ شي ❀ سحر سحر د نيکئ دعوت عام کولو ثواب به ميلاؤ شي ❀ ستاسو را بيدارولو سره چې څومره خلق لمُونځ اوکړي، د هغه ټولو لمُونځونو ثواب به هغوئي ته هم ميلاؤ شي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! ستاسو په اعمال نامه کښې به هم [د هغې ثواب] اوليکلے شي ❀ سحر سحر د پياده تللو موقع به هم ميلاؤ شي او صحت به مو ښه وي❀ يوه اهمه فائده دا ده چې د جمات رونق به زيات شي، د يو اسلامي ورور بيان دے چې مونږه په ژمي کښې د سحر لمَانځه د پاره را بيدارول شروع کړه نو دومره لمُونځ کوونکي زيات شو چې د جمات په صحن کښې مو شاميانئ اولګولې. سُبْحٰنَ الله!

---

[1]...ابو داؤد، کتاب الصلاة، باب الاضطجاع، صفحه:208، حديث:1264۔

[2]...مشكاة المصابيح، کتاب الصلاة، باب التحريص على قيام الليل، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240۔

[3]...تاريخ الخلفاء، ذِكرُ على بن ابي طالب، فصل فى مبايعة على بالخلافة، صفحه:112۔

څه مشكل نه دي، د جُمعے د وخت نه 20، 25 منټ مخکښې پاځئ! لمَانځه له خو هسې هم تلل دي، آواز کوئ او ځئ! جمات ته به هم اورسئ او د اللّٰه پاك په فضل سره د نيکئ دعوت عام کولو ثواب به هم ميلاؤ شي. نِيَّت اوکړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د سحر لمَانځه د پاره به را بيدارول کووم. راځئ! يو مدني سپرلے اورو:

## د مکي مدني سرکار صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بارګاه نه بلنه راغله

تهينګ مورړ (قصور، پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: اَلْحَمْدُلِلّٰه! زه د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې شامل خو ووم خو د ديني کارونو په سلسله کښې د سُستئ ښکار ووم. اِتِّفاقاً د دعوتِ اسلامي يو اسلامي ورور سره مې ملاقات اوشو، کله چې هغه ته زما په ديني کارونو کښې شوق کم معلوم شو نو د نيکئ دعوت را کولو سره ئې نه صرف د ديني کار کولو ذِهن راکړو بلکه په پابندئ سره د سحر لمَانځه د پاره نورو را بيدارولو ترغيب هم راکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما ذِهن جوړ شو او ما خلق د سحر لمَانځه د پاره رابيدارول شروع کړه. د سحر لمَانځه د پاره د رابيدارولو برکت داسې ښکاره شو چې د قِسمَت ستورے مې اوځليدو، هم په دغه کال ما ته د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د حاضرئ شرف حاصل شو.

صدائے مدینہ دِکھائے مدینہ | الٰہی دکھا دے ضیائے مدینہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# دارُ الافتاء اهلسنَّت ايپلي کيشن

اے عاشِقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د علمِ دين فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوتِ اسلامي آئی. ټي ډيپارټمنټ د عوامو د آسانئ د پاره يو موبائل ايپلي کيشن ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دارُ الافتاء اهلسُنَّت) جوړ کړے دے، په دې ايپلي کيشن به تاسو ته ميلاؤ شي: ډير زيات مذهبي او مُعاشرتي سوالونو ليکونکي فتوے ❁ د عقائدو مُتَعَلِّق احکام ❁ د قرآن وسُنَّت مُتَعَلِّق احکام ❁ اودس، غُسل او د ناپاکئ احکام ❁ د لَمانځه مُتَعَلِّق مسئلے ❁ د مړي مُتَعَلِّق مسائل ❁ د مفتيانِ دعوتِ اسلامي اهم تربيتي او معلوماتي ويډيو کلپس او بيانونه ❁ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې رهنمائي کوونکي مختلف مضمونونه او کتابونه ❁ د مفتيانِ کرامو مختلف علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو باندې مشتمل سلسلے ❁ تجارت کورس، فرض علوم کورس او نور ډير څه. دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د څينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا!　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]...مشکوٰة،کتابُ:الْاِيمان،باب:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

## د لاس ميلاوهلو سُنتونه او آداب

**فرمانِ آخري نبـي رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: كله چې دوه مسلمانان په خپل مينځ ميلاؤ شي او لاس ميلاؤ كړي او د يو بل خيريت معلوم كړي نو الله پاك د دې دوارو په مينځ كښې 100 رحمتونه نازلوي چې په هغې كښې 99 رحمتونه په ډير شوق سره ميلاويدونكي او په ښه طريقے سره د خپل ورور خيريت معلوموونكي د پاره دي.

**اے عاشقانِ رسول!** لاس ميلاوهلو ته په عربئ كښې **مُصَافَحه** او په انګلش كښې ***Handshake*** وائي ❀ د 2 مسلمانانو د ملاقات په وخت په دوارو لاسو سره مُصافَحه كول يعني دواړه لاسونه ميلاوهل سُنَّت دي ❀ د لاس ميلاوهلو نه مخكښې سلام اوكړئ ❀ د رُخصتيدو په وخت هم سلام اوكړئ او (ورسره) لاس هم ميلاوهلے شئ ❀ د لاس ميلاوهلو په دوران كښې دُرُودِ پاك اولولئ د لاسونو جدا كيدو نه مخكښې به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! مخكښيني او وروسته ګناهونه اوبخښلے شي. ❀ د لاس ميلاوهلو په وخت دُرود شريف لوستلو سره دا دُعا هم اولولئ: يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ (يعني الله پاك دې زمونږه او ستاسو بخښنه اوكړي) ❀ دوه مسلمانان د لاس ميلاوهلو په وخت چې كومه دُعا اوغواړي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! قبوله به شي ❀ مسلمان ته سلام كولو، لاس ميلاوهلو بلكه په محبت سره د هغه ديدار كولو سره هم ثواب ميلاويږي. په حديثِ پاك كښې دي: څوك چې خپل مسلمان ورور طرف ته د محبت په ډك نظر اوګوري او د هغه په زړه كښې دُښمني نه وي نو د نظر اړولو نه مخكښې به د دوارو مخكښيني او وروسته ګناهونه اوبخښلے شي ❀ څو ځله ملاقات وي لاس ميلاوهلے شئ ❀ نن سبا بعضې خلق د

دواړه طرف نه صرف يو لاس ميلاوهي بلكه صرف ګوتې خپل مينځ كښې لګوي، دا تول د سُنَّت خلاف دي ❁ د لاس ميلاوهلو نه پس بعضې خلق خپل لاس ښكلولي، دا مكروه دي، آو كه د يو بُزُرك سره لاس ميلاوهلو نه پس د بركت حاصلولو د پاره خپل لاس مو ښكل كړل نو مكروه نه دي ❁ لاس ميلاوهلو وخت كښې په لاس كښې رومال وغيره حائل نه وي بلكه ورغوي خالي وي او ورغوي سره ورغوے لګيدل پكار دي.

**اللّٰه** پاک دِ د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ټولو ته په سُنَّتو باندې د عمل كولو توفيق را كړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د **مكتبة المَدينه** د **بهارِ شريعت** جلد 3 نه حصه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال **محمد الياس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتونو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر كول هم ده.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو[1]

الله پاك دې مونږ ته د عمل كولو توفيق را عطا كړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه: 669 ملتقطًا۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

[1] ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ الله

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

[1] ... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

[2] ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

[3] ... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللہُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

[2] ... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب في کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

[3] ... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵